❖❖❖

# د ایران او اسراییلو جګړه او د منځني ختیځ راتلونکی

*څېړنوال عبدالصبور مبارز**

***لنډیز***

*ایران او اسرائیل له څو لسیزو راهیسې په شخړه کې دي، خو تر ټولو لوی او جدي ټکر یې د ۲۰۲۵ کال په جون میاشت کې د ۱۲ ورځو جګړې په بڼه رامنځته شو، چې پر ایران د اسرائیلو له پراخو هوايي بریدونو سره پیل شوه. د ایران او اسرائیلو دا نښته د سیمې پر جیوپولیټیک او د منځني ختیځ پر راتلونکي وضعیت اغېزې لري. د دغې څېړنې موخه د ایران او اسراییلو له دغې جګړې وروسته په منځني ختیځ کې د سیمه‌ییزو اتحادونو څرنګوالی، د نیابتي ډلو د سیاست مسیر، په سیمه‌ییز امنیتي جوړښت او د قدرت توازن کې د بدلونونو ارزونه ده. په دې توګه د څېړنې بنسټیزه پوښتنه دا ده چې د ایران او اسراییلو له جګړې وروسته به د منځني ختیځ راتلونکی څه ډول وي؟ د دې پوښتنې د ځواب موندلو لپاره د څېړنې له توصیفي-تحلیلي مېتود او د معلوماتو راټولولو له کتابتوني ډول څخه ګټه اخیستل شوې ده. د څېړنې موندنې ښيي، چې د ایران او اسراییلو له جګړې وروسته په سیمه کې د ترکیې، سعودي عربستان، ایران او اسراییلو ترمنځ د ځواک سیالی د لا ګړندي کېدو او د دوی ترمنځ د وسلو د سیالیو پیلېدو اټکل شته دی. همدارنګه شونتیا دا ده، چې ایران به یو ځل بیا په سیمه کې پر خپلو ملاتړو ډلو پانګونه چټکه کړي او د مقاومت محور به یو ځل بیا پیاوړی کړي چې له دې سره به په سیمه‌ییز امنیتي جوړښت کې هم بدلون راشي.*

***کلیدي کلمې:** ایران، اسراییل، منځنی ختیځ، جګړه، راتلونکی.*

---

* د افغانستان د علومو اکاډمی د سیمه‌ییزو مطالعاتو مرکز علمي غړی

**سریزه**

په منځني ختیځ کې د ایران او اسراییلو شخړه له مهمو او پېچلو جیوپولټیکي شخړو څخه ګڼل کېږي. دغه شخړه پر ایډیالوژیکي، مذهبي او جیوپولټیکي بنسټونو ولاړه ده، چې په کې د تاریخي میراثونو او د ملي او سیمه‌ییزو ګټو د ټکر اغېزې هم شاملې دي.

له ۲۰۲۴ز. کال راهیسې ایران او اسراییل په مستقیمې او نامستقیمې جګړې کې سره ښکېل دي. د ۲۰۲۴ز. کال په اپرېل میاشت کې ایران پر اسراییلو د بالستیک توغندیو برید وکړ، په دغه برید کې ۱۷۰ بې‌پیلوټه الوتکو، ۳۰ کروز توغندیو او ۱۱۰ بالستیک توغندیو برخه اخیستې وه، د برید اصلي لامل د سوریې په پلازمینه دمشق کې د ایران پر قونسلګرۍ د اسراییلو برید و، چې ایران یې په ځواب کې دغه برید ترسره کړ (Laeny, 2024, 146). همدارنګه د ۲۰۲۴ز. کال د جولای پر ۳۱مه اسراییلو په تهران کې د حماس مشر اسماعیل هنیة په شهادت ورساوه (Ronen, 2024) او د همدغه کال د اکتوبر پر لومړۍ نېټه ایران د ۱۸۰ بالستیک توغندیو له لارې پر اسراییلو برید وکړ. د دغه برید دوه لامله ښودل کېږي، یو د اسماعیل هنیة د شهادت غچ اخیستل او بل په لبنان کې د حزب الله په خلاف د اسراییلو پراخو عملیاتو ته غبرګون ښودل (Laeny, 2024). بالآخره د ۲۰۲۵ز. کال د جون پر ۱۳مه د اسراییلو له لوري پر ایران مخامخ پراخ برید وشو او د دواړو لوریو ترمنځ جګړه ونښته (Pratiksha, 2025)، دې جګړې نږدې ۱۲ ورځې دوام وکړ چې دواړو لوریو په کې خپله بریا اعلان کړه. اوس پوښتنه دا ده، چې د ایران او اسراییلو له دغې جګړې وروسته به په منځني ختیځ کې سیمه‌ییز اتحادونه څه ډول شي، د نیابتي ډلو سیاست به کوم لوري ته ولاړ شي، سیمه‌ییز امنیتي جوړښت او د قدرت توازن کې به څه بدلونونه راشي.

د څېړنې موخه د ایران او اسراییلو د جګړې څېړل او په رڼا کې یې د منځني ختیځ راتلونکی تحلیلول دي. په دې توګه د څېړنې بنسټیزه پوښتنه دا ده، چې د ایران او اسراییلو له جګړې وروسته به د منځني ختیځ راتلونکی څه ډول وي؟ دغې پوښتنې ته د ځواب موندلو لپاره د څېړنې له توصیفي-تحلیلي مېتود او د موادو راټولولو له کتابتوني ډول څخه ګټه اخیستل شوې ده.

د څېړنې په جوړښت کې له تیوریکي چوکاټ وروسته، لومړی د ایران او اسراییلو د

جګړې تاریخي مبنی څېړل شوې، بیا د ایران او اسراییلو د جګړې موخې ارزول شوې دي، وروسته د منځني ختیځ پر راتلونکي بحث شوی او د پایلې، وړاندیزونو او ماخذونو په راوړلو سره مقاله پای ته رسېدلې ده.

## د څېړنې تیوریکي چوکاټ

په دې څېړنه کې له امنیتي معما تیوري[۱] څخه ګټه اخیستل شوې ده. دا تیوري د نیوریالیزم تیورۍ برخه او د نړیوالو اړیکو ځینو پوهانو د نیوریالیزم تیورۍ زړه ګڼلې دی. (Jennifer, 2006, P.1) دا تیوري د لومړي ځل لپاره په ۱۹۵۱ز.کال کې هربېرټ بټرفیلډ[۲] په خپل کتاب (د بشري اړیکو تاریخ)[۳] او جون هېرز[٤] په خپل کتاب (واقع‌ګرایي او سیاسي آرمان‌پالنه: د تیوریو او واقعتونو یو څېړنیز تحلیل)[٥] کې وړاندې کړه او بیا وروسته په ۱۹۷٦ز. کال کې روبرټ جاروېس[٦] په خپل کتاب (په نړیوال سیاست کې سم او ناسم درک)[۷] کې دې تیورۍ ته نوره پراختیا هم ورکړه.

د دې تیورۍ اصلي مفهوم دا دی چې، یو دولت د خپل امنیت د ټېنګښت او پیاوړتیا لپاره داسې کړنې ترسره کوي، چې له امله یې د بل دولت امنیت له ننګونو سره مخ کېږي او په پایله کې دغه دوه دولتونه یا سره مخامخ جګړه کوي او یا یې هم ترمنځ اړیکې خرابېږي (Shiping, 2009, 594-595). نیوریالیزم وایي چې ځینې وخت یو دولت د دې لپاره ځواک زیاتوي چې خپل سیال پرې وځپي، چې دې ته تهاجمي واقع‌ګرایي[۸] ویل کېږي او ځینې وخت یو دولت د دې لپاره خپل ځواک زیاتوي چې د خپل سیال یا دښمن پر ضد پرې دفاع وکړي چې دې ته دفاعي واقع‌ګرایي[۹] ویل کېږي (Mearsheimer, 2007, 72-73). که د دې

---

[1] Security Dilemma Theory
[2] Herbert Butterfield
[3] History and Human Relations
[4] John Herz
[5] Realism and Political Idealism: A Study in Theories and Realities
[6] Robert Jervis
[7] Perception and Misperception in International Politics
[8] Offensive Realism
[9] Defensive Realism

تیوری په چوکاټ کې د ایران او اسراییلو جګړه وڅېړو، نو معلومېږي چې دواړه دولتونه په منځني ختیځ کې د خپل قدرت د پایښت لپاره مبارزه کوي، دواړه دولتونه عملا دښمني لري او ان تر دې چې په بشپړ ډول د اسراییلو له منځه وړل د ایران د بهرنۍ پالیسۍ برخه ګڼل کېږي. په داسې شرایطو کې دواړه دولتونه د خپل امنیت د خوندي کولو لپاره داسې کړنې ترسره کوي، چې د مقابل دولت د امنیت لپاره ګواښ ګڼل کېږي. اسراییل په منځني ختیځ کې یو اتومي ځواک دی او ایران هم د خپل دغه دښمن په مقابل کې د پایښت لپاره د اتومي وسلې د جوړولو هڅې کوي ترڅو یې له اسراییلو سره د ځواک توازن برابر شي، ځکه د دې تیورۍ له مخې په نړیواله کچه داسې یو قدرت نشته چې نړیوال نظم په بشپړ ډول کنټرول کړای شي او له یو ظالم دولت څخه د یوه مظلوم دولت دفاع وکړي، نو په داسې حالت کې هر دولت اړ دی چې د خپل ځان دفاع په خپله وکړي. نو اوس که ایران د خپل ځان د دفاع لپاره اتومي وسله جوړوي او که د توغندیو ازمایښت کوي، اسراییل دا چاره د خپل امنیت لپاره ګواښ ګڼي او د همدغه ګواښ د له منځه وړلو لپاره یې پر ایران برید وکړ.

## د ایران او اسراییلو د جګړې تاریخي مبنی

په ۱۹۴۸ز.کال کې د اسراییلو له رامنځته کېدو وروسته د ایران او اسراییلو اړیکې په درېو پړاوونو کې مطالعه کېدای شي: لومړی پړاو د ایران د اسلامي انقلاب له رامنځته کېدو څخه مخکې پړاو دی، دویم پړاو له ۱۹۷۹ز.کال څخه تر ۱۹۹۰ز.کال پورې دی او درېیم پړاو یې له ۱۹۹۰ز.کال څخه تراوسه پورې (۲۰۲۵ز. کال) دی. د ایران له اسلامي انقلاب څخه مخکې د اسراییلو او ایران ترمنځ اړیکې ډېرې نږدې او ښې وې. ایران د محمد رضاء شاه پهلوي په دوره کې له ترکیې وروسته دویم اسلامي هیواد و، چې اسراییل یې په رسمیت وپېژانده. هغه مهال اسراییلو ۴۰ سلنه تیل له ایران څخه واردول او په بدل کې یې ایران ته وسله، ټیکنالوژي او کرنیز توکي ورکول، تر دې چې د اسراییلو استخباراتي ادارې موساد د ایران د پټو پولیسو په روزنه کې هم ونډه لرله.(FP Explainers، 2024)

د ایران له اسلامي انقلاب څخه مخکې د رضاء شاه پهلوي په دوره کې د اسراییلو او ایران ترمنځ د اړیکو د نږدې کېدو ستر لامل د اسرییلو او عربانو ترمنځ جګړې او شخړې وې. د

اسراییلو څلورو خواوو ته داسې عربي هېوادونه پراته وو، چې د دغه هېواد مخالف وو او د له منځه وړلو په اراده یې پرې بریدونه کول. په همداسې شرایطو کې د اسراییلو د لومړي وزیر ډیویډ بن ګوریون[1] او د هغه د بهرنۍ پالیسۍ د ټیم له خوا سیمه‌ییزه ستراتیژي[2] مطرح شوه او بنسټیزه نکته یې دا وه له خپلو دښمنو عربو ګاونډیو څخه د ځان ژغورنې او د دوی د نفوذ د مهارولو لپاره باید له داسې غیرعربو هېوادونو او ډلو سره ستراتیژیکې اړیکې جوړې شي چې ترمنځ مو مشترکې ګټې موجودې وي (Natan، 2019). د موساد مشر شبتای شاوېت ( Shabtai Shavit, 1989-1996) وایي: د دغه دکتورین موخه دا ده چې یو مثلث په شمال کې د ایران، ترکیې او اسراییلو ترمنځ او بل مثلث په جنوب کې د سوډان، ایتوپیا او اسراییلو ترمنځ جوړ شي. د دې ترڅنګ له کردانو او دروزو سره هم نږدې اړیکې وساتل شي (Ben، 2024, 108). لنډه دا چې د ایران له اسلامي انقلاب څخه مخکې د اسراییلو او ایران ترمنځ د اړیکو د نږدې کېدو یو لامل د اسراییلو او عربانو ترمنځ د شخړو شتون او بل لامل یې د ایران او متحده ایالاتو ترمنځ د نږدې اړیکو موجودیت و، چې د متحده ایالاتو له لارې د اسراییلو او ایران ترمنځ اتحاد رامنځته شو.

کله چې په ۱۹۷۹ز.کال کې د ایران اسلامي انقلاب بریالی شو او د آیت الله خمیني په مشرۍ یو مذهبي حکومت واک ته ورسېده، نو د اسراییلو او ایران اړیکې خرابې شوې. د دغو اړیکو د خرابېدو ستر لامل د فلسطین قضیه وه. خمیني د فلسطین قضیه سره کرښه یاده کړه او اسراییلو ته یې د کوچني او متحده ایالاتو ته یې د ستر شیطان خطاب وکړ (Rishika، 2024). له اسراییلو سره یې اړیکې پرې کړې؛ په تهران کې یې د اسراییلو سفارت پر فلسطیني سفارت بدل کړ او خپلو وګړو ته یې امر وکړ چې اسراییلو ته به سفر نه کوئ ( Maziar Motamedi، 2023). دا چې ولې ایران د فلسطین قضیه په دومره لوړه کچه مطرح کړه او له اسراییلو سره یې پرې اړیکې پرې کړې، په دې اړه (د مسؤولانه حکومتولۍ لپاره د کوینسي

---

[1] David Ben-Gurion
[2] Periphery Doctrine

انستیتیوت)[1] مرستیال تریته پارسي[2] وايي: ایران غوښتل چې د فلسطین قضیه چې یوه عربي نشنلستي قضیه وه، پر یوه اسلامي قضیه بدله کړي. اسلامي نړۍ ته وښیي چې دوی د فلسطین قضیه رهبري کولای شي. همدارنګه په ایران کې د یوه شیعه مذهبي حکومت له رامنځته کېدو وروسته عربي نړۍ د دوی پر خلاف پروپاګنډا پیل کړه او اسلامي نړۍ یې یوازې سني ګڼله، خو ایران د فلسطین په قضیه کې د دومره جدیت له لارې غوښتل چې په اسلامي نړۍ کې ځان مدغم او د فلسطین د قضیې د رهبرۍ په لاس کې اخیستلو له لارې د اسلامي نړۍ رهبرۍ ته مخکې شي (Ibid).

په ایران کې د اسلامي انقلاب له بریا وروسته مرحله هم دوه برخې لري. له ۱۹۷۹ز.کال څخه تر نوییمو کلونو پورې ایران او اسراییلو د صدام حسین پر وړاندې همکارۍ او پټې اړیکې لرلې. اسراییلو د متحده ایالاتو جوړ شوي میزایل ایران ته لېږل او د دې همکارۍ له لارې یې هڅه کوله چې یو ځل بیا ایران ته ځان نږدې کړي او پخوانی اتحاد بیا تازه کړي، خو ایران په سیمه کې د نیابتي ډلو په جوړولو لګیا و، په ځانګړي ډول په لبنان کې چې له اسراییلو سره ګډه پوله لري. دا کړنې د دې لامل شوې چې د ایران-عراق له جګړې او په ځانګړي ډول له ۲۰۰۰ز.کال څخه وروسته دواړه هېوادونه ښکاره دښمني پیل کړي. اسراییلو څو ځلې د ایران په اتومي بټیو بریدونه کړي او د دوی د اتومي انرژۍ ساینسپوهان یې وژلي دي، چې ښې بېلګې یې په ۲۰۲۰ز. کال کې محسن فخري زاده (ToI Staff، 2021) او په ۲۰۲۵ز. کال کې د نورو یولسو ساینسپوهانو وژل دي (Howard، 2025). اسراییل بیا وایي چې ایران پر دوی سایبري بریدونه کوي او د دوی د تیلو کاروانونه په نښه کوي. د ایران او اسراییلو ترمنځ د اړیکو د خرابېدو له امله اوس پوهان وايي چې د اسراییلو سیمه‌ییزه ستراتیژي[3] د سیمه‌ییزې تګلارې معکوسه ستراتیژۍ[4] باندې بدله شوې ده؛ یعنې دغه دکتورین برعکس شوی دی؛ په دې معنا چې پخوا اسراییلو د عربانو خلاف له ایران او ترکیې سره مثلث جوړاوه

[1] Quincy Institute for Responsible Statecraft
[2] Trita Parsi
[3] Periphery Doctrine
[4] Reverse periphery doctrine

او اوس د ایران او ترکیې خلاف له عربانو سره اړیکې او اتحاد جوړوي (R.G. Uxton، 2025).
په دې توګه د ایران له اسلامي انقلاب وروسته له اسراییلو سره د دغه هېواد دښمني پیل شوه او
ستر لامل یې د فلسطین قضیه وه. د دغې دښمنۍ په لاره کې دوی څو ځله پر یو او بل بریدونه
کړي او دغو بریدونو د دواړو هېوادونو
ترمنځ شخړه نوره هم پېچلې کړې ده.

**پر ایران د اسراییلو د برید موخې**

دا چې اسراییلو ولې پر ایران برید وکړ او د دغه برید له لارې اسراییلو کومې موخې تعقیبولې؟ دغه پوښتنې به په لاندې بحث کې ځواب شي.

**۱- د ایران اتومي پروګرام له منځه وړل:** د ایران او اسراییلو د جګړې ستر او بنسټیز لامل د ایران اتومي پروګرام دی. لوېدیځ او اسراییل د یوویشتمې پېړۍ له پیل راهیسې په دې هڅه کې دي چې ایران د اتومي وسلې جوړولو ته پرېنږدي او له همدې امله یې لومړی پر ایران د بندیزونو لاره ونیوه او کله چې بندیزونو کار ورنه‌کړ بیا متحده ایالاتو له ایران سره د اتومي پروګرام پر سر مذاکرات پیل کړل او د دغو مذاکراتو له لارې یې په ۲۰۱۵ز. کال کې له ایران سره د ګډ هراړخیز اقدام پلان[1] تر سرلیک لاندې تړون لاسلیک کړ. د دغه تړون له لارې ایران مکلف شوی و چې: د یورانیمو بډایه کول به محدودي، اتومي زېرمې به کموي، د نطنز او فردو مرکزونو فعالیت به محدودي، نړیوالو څارونکو ته به اجازه ورکوي چې ایران ته د سفر او د دغو مرکزونو د لیدلو له لارې دغه کړنې وڅاري او د دغو تړولو په بدل کې له ایران څخه ستر بندیزونه لرې کړای شول (Kali Robinson، 2023). خو کله چې ډونالډ ټرمپ په لومړي ځل د متحده ایالاتو ولسمشر شو، نو دغه تړون یې د ایران په ګټه وباله او داسې یې وګڼله چې دغه تړون ایران له اتومي وسلې جوړولو څخه نشي راګرځولی. هماغه وو چې تړون یې د ټولو نړیوالو موازینو او نورمونو خلاف په یو اړخیز ډول لغوه کړ او پرېکړه یې وکړه چې ایران به یا د مذاکراتو له لارې او یا هم د جګړې له لارې دې ته قانع کوي چې په بشپړ ډول خپل اتومي پروګرام له منځه یوسي. د همدې موخې د ترلاسه کولو لپاره یې تیاری

[1] Joint Comprehensive Plan of Action (JCPOA)

ونیو او هڅه یې وکړه چې لومړی د ایران د مقاومت محور او یا هغه اوسپنیز دیوال چې ایران له ځان څخه تاو کړی و، مات کړي؛ حماس غورځنگ یې کمزوری کړ؛ په لبنان کې یې پر حزب الله بریدونه وکړل؛ متحده ایالاتو او اروپایانو د یمن پر انصار الله سخت گوزارونه وکړل؛ په سوریه کې یې د بشار الاسد ایران پلوی رژیم وځاپه؛ او په عراق کې یې کتایب حزب الله هم راپورته کېدو ته پرې نښود. په دې توگه کله چې متحده ایالات او اسراییل پوه شول چې د ایران د مقاومت محور مات شوی، نو بیا یې ایران ته لومړی د مذاکراتو بلنه ورکړه او د درې پړاوه مذاکراتو له لارې متحده ایالاتو له ایران څخه وغوښتل چې په بشپړ ډول خپل اتومي پروگرام له منځه یوسي، خو دا چاره ایران ته د منلو نه وه (ACRPS، 2025). هماغه وو چې اسراییلو پر ایران برید وکړ او کله چې متحده ایالاتو ولیدل چې اسراییل په یوازې ځان نشي کولای د ایران اتومي بټۍ په نښه کړي، نو بیا خپله هم جگړې ته داخل شو او د ایران پر فردو، نطنز او اصفهان اتومي بټیو یې بریدونه وکړل او ادعا یې وکړه چې دوی د ایران ټول اتومي پروگرام له منځه وړی دی (SAM، 2025). په دې توگه پر ایران د اسراییلو د برید یوه ستره موخه د ایران د اتومي پروگرام او د توغندیو د تولید فابریکې له منځه وړل وو او د همدې موخې د ترلاسه کولو لپاره یې د جگړې په پیل کې د ایران اتومي تأسیسات په نښه کړل، اتومي ساینسپوهان یې ووژل، د توغندیو د تولید فابریکې یې په نښه کړې او نظامي لیډرشپ ته یې هم سخت گوزارونه ورکړل.

**۲- په منځني ختیځ کې د قدرت ښودنه کول:** اسراییل غواړي چې پر منځني ختیځ باداري وکړي او د دې موخې د ترلاسه کولو په لاره کې متحده ایالات هم ورسره همکاري کوي، ځکه په منځني ختیځ کې د متحده ایالاتو تر ټولو مهم مورچل اسراییل دی او په سیمه کې د اسراییلو برلاسي او قدرتمند کېدل د متحده ایالاتو د قدرتمند کېدو په معنا دي. پر غزې، لبنان، سوریې، یمن او ایران د برید له لارې اسراییل غواړي چې په منځني ختیځ کې ځان قدرتمند وښیي او هغه هیوادونه وگواښي چې د اسراییلو پر ضد د ځینو کړنو هڅې کوي او په منځني ختیځ کې د خپلې قدرت ښودنې له لارې ځان د سیمې هژمونیک قدرت ثابت کړي.

**۳- د فساد د قضیې له منځه وړل او یا ځنډول:** له ۲۰۲۰ز.کال راهیسې د اسرائیلو پر لومړي وزیر نتنیاهو د فساد درې قضیې ثبت شوي دي. لومړی یې Case 1000: په دې قضیه کې پر نتنیاهو او د هغې پر ښځې سارا تور دی چې له دوو سوداګرو څخه یې یو لک او دوه نوي زره ډالر د سیاسي ملاتړ په بدل کې د ډالۍ په توګه اخیستي دي. دویم یې Case 2000: په دې قضیه کې پر نتنیاهو تور دی چې نوموړي د ارنون موزیز په نوم یوه سوداګر سره، چې یوه مشهوره ورځپاڼه چلوي، داسې هوکړه کړې چې دغه ورځپاڼه به د نتنیاهو په پلوی خبرونه خپروي او په بدل کې به نتنیاهو هغه ته سیاسي ملاتړ ورکوي. درېیم یې Case 4000: په دې قضیه کې پر نتنیاهو تور دی چې نوموړي یوه مخابراتي شرکت ته چې بېزق نومیږي له دولتي بودیجې پیسې ورکړې دي، ترڅو د ده او د ده د ښځې په اړه د رسنیو په ویبپاڼو کې مثبت خبرونه خپاره کړي. د دې ترڅنګ نتنیاهو په دوکه، رشوت او د باور په ماتولو قضیو کې هم تورن دی (Farah، 2024). په دې توګه، پر ایران له برید څخه د نتنیاهو یوه موخه دا هم ده چې په جګړه کې د یوه ښکېل هېواد د مشر په توګه له محکمې څخه نور وخت هم وغواړي او دا قضیې له ځنډ سره مخ کړي. تر دې چې د اسراییلو د پارلمان[1] ځیني غړي په دې باور دي چې نتنیاهو د سیمه‌ییزو شخړو د پیلولو له لارې غواړي چې د ده پر وړاندې د فساد قضیې له منځه یوسي. د اسراییلو د پارلمان غړې ناما لازمي[2] وایي: «نتنیاهو د اسراییلو راتلونکی او زموږ د اولادونو برخلیک د خپلې محکمې له قضیې سره تړي.» همدارنګه یو بل غړی کاریر الهارار[3] وایي: «نتنیاهو د خپلې قانوني قضیې د ځنډولو په موخه د اسراییلو د عامه ګټو خلاف عمل کوي» (Aljazeera، 2025)؛ لنډه دا چې د نورو سیمه‌ییزو شخړو په څېر پر ایران د برید له لارې هم د نتنیاهو یوه موخه د فساد اړوند د خپلې قضیې ځنډول او یا له منځه وړل دي.

**۴- د لوی اسراییلي دولت د جوړېدو هڅې:** اسراییل غواړي ثابته کړي، چې دوی نور د "سیاسي واقعیت" پر بنسټ نه، بلکې د "سیاسي الهیاتو"[4] پر اساس عمل کوي. سیاسي

---

[1] Knesset
[2] Naama Lazimi
[3] Karine Elharrar
[4] Theo-politics

الهيات داسې يو فکر، طرز تحليل يا نظريه ده چې پکې د ديني، الهي يا مذهبي مفاهيمو، باورونو او تعهداتو پر بنسټ سياسي تصاميم، نظامونه او جګړې تفسير يا تحليل کېږي (Marzak، 2016). اسراييل غواړي چې د لوی اسراييلي دولت د جوړېدو پلان تعقيب کړي او دوی دې قضيې ته له مذهبي اړخه ګوري. دوی وايي چې له دوی سره د لوی اسراييل ژمنه شوې او د هماغې ژمنې په تعقيب دوی هڅې کوي لوی اسراييل جوړ کړي، چې په هغه کې اوسنی سوريه، لبنان، اردن او مصر شامل دي (Bishop, 2024). د همدغه ديني-سياسي ليدلوري پر بنسټ، صهيونيستي رژيم هڅه کوي خپلې پولې دغو ساحو ته پراخې کړي او په دې لاره کې له هر هغه دولت سره وجنګېږي چې د دوی د لوی اسراييلي دولت په مخ کې خنډ واقع کېږي. د دغو دولتونو په قطار کې يو هم ايران دی. ايران په لبنان، فلسطين او سوريه کې د اسراييلو په مقابل کې مبارزه کوي او دا مبارزه د لوی اسراييلي دولت د جوړېدو په مخ کې خنډ دی. له دې کبله، پر ايران د اسراييلو د بريد يوه موخه دا ده چې د لوی اسراييلي دولت د جوړېدو په مخ کې دغه خنډ له منځه يوسي.

## د منځني ختيځ راتلونکی

د ايران او اسراييلو جګړې پر منځني ختيځ پراخې اغېزې لرلې او د همدغو اغېزو په رڼا کې کېدای شي په منځني ختيځ کې ځينې ستر بدلونونه راشي، دا چې له دغې جګړې وروسته به د منځني ختيځ راتلونکی څنګه وي، دلته پرې بحث کوو.

### ۱- له اسراييلو سره د نارملايزيشن تړونونو ځنډېدل

نارملايزيشن تړون د اسراييلو په رسميت پېژندل او له هغوي سره د اړيکو عادي کول دي. متحده ايالات هڅه کوي چې په منځني ختيځ کې ټول هېوادونه اسراييل په رسميت وپېژني او اړيکې ورسره عادي کړي او د دې کار په بدل کې دغو هېوادونو ته يو څه امتيازات ورکړي. په منځني ختيځ کې مصر لومړنی هېواد و، چې په ۱۹۷۹ز.کال کې يې له اسراييلو سره د سولې تړون لاسليک کړ او دغه هېواد يې په رسميت وپېژانده. وروسته په ۱۹۹۴ز.کال کې اردن له اسراييلو سره د نارملايزيشن تړون لاسليک کړ او په ۲۰۲۰ز.کال کې د متحده ايالاتو ولسمشر ټرمپ په دې وتوانېده چې څلور عربي هېوادونه، بحرين، المغرب، سوډان او

متحده عربي امارت هم پر دې قانع کړي چې له اسراییلو سره د نارملایزیشن تړون لاسلیک او دغه هېواد په رسمیت وپېژني، چې په بدل کې یې متحده ایالاتو د لویدیزې صحرا لانجمنه سیمه د المغرب د خاورې په توګه په رسمیت وپېژندله او سوډان یې له ترهګرۍ څخه د ملاتړو هېوادونو له لیست څخه وایست (Michael، 2025).

همدارنګه په ۲۰۲۲ز.کال کې جوبایډن سعودي عربستان ته د سفر پرمهال له محمد بن سلیمان سره د نارملایزیشن تړون موضوع یاده کړه او له نتنیاهو سره یې د مذاکراتو پر پیل هم خبرې کړې وې. اسراییلو او سعودي عربستان د ۲۰۲۳ز.کال د اګست په میاشت کې رسنیو ته ویلي وو، چې دوی د نارملایزیشن تړون ته نږدې شوي دي. سعودي عربستان له امریکا متحده ایالاتو څخه د دې تړون په بدل کې امنیتي ضمانتونه او د ملکي موخو لپاره د اتومي پروګرام ملاتړ غوښتی و (Ellenbogen, 2023). داسې معلومېده چې اسراییل او سعودي عربستان هم د اړیکو عادي کېدو ته نږدې شوي وو، خو په منځني ختیځ کې د ځینو بدلونونو او پېښو له امله دغه تړون وځنډېده چې په هغې کې په ۲۰۲۳ز.کال کې پر فلسطین د اسراییلو برید او په ۲۰۲۴ او ۲۰۲۵ز. کالونو کې پر ایران د اسراییلو بریدونه شامل دي. له اسراییلو سره د اړیکو د عادي کولو په اړه په ۲۰۲۰-۲۰۲۱ز. کالونو کې په عراق، لبنان، تونس، موریتانیا او د منځني ختیځ په ځینو نورو هېوادونو کې هم سروې‌ګانې وشوې، چې په پایله کې یې له ۲۰ څخه تر ۳۹ سلنه وګړو مثبته رایه ورکړې وه، خو د فلسطین د جګړې او پر ایران د اسراییلو له برید وروسته دا سلنه په ځینو هېوادونو کې صفر او په ځینو کې بیا درې او لوړه یې دیارلس ته راښکته شوه. پر ایران د اسراییلو له برید وروسته په عراق او لبنان کې دا سلنه ډېره راښکته شوه.

پر ایران د اسراییلو له برید وروسته د سیمې له هېوادونو سره دا فکر پیدا شوی دی چې اسراییل غواړي په سیمه کې خپل قدرت پیاوړی کړي او په دې لاره کې دوی ټول منځنی ختیځ بې‌ثباته کړي او که له دغه هېواد سره اړیکې عادي شي، نو دا به نور هم اسراییلو ته قوت وروبښي. له همدې امله سعودي عربستان پر ایران د اسراییلو برید په کلکو ټکو وغنده او د سعودي عربستان ولي عهد محمد بن سلمان د ایران له ولسمشر مسعود پزشکیان سره په

مستقیم ډول په ټلېفون خبرې وکړې او د ملاتړ ډاډ یې ورکړ. دویم دا چې په منځني ختیځ کې د اسراییلو وروستیو کړنو په اسلامي نړۍ کې د مسلمانانو ترمنځ د اسراییلو خلاف سخته کرکه پیدا کړې او له همدې امله د نړۍ اکثره مسلمانان له اسراییلو سره په وروستۍ جګړه کې د ایران ملاتړي وو چې له کبله یې شایي په منځني ختیځ کې نور هېوادونه له اسراییلو سره د اړیکو عادي کېدو ته زړه ښه نه کړي. د دې ترڅنګ هغو هېوادونو چې له اسراییلو سره یې اړیکې عادي کړې دي، شایي هغوی هم بېرته خپل تړونونه لغوه کړي چې په دې برخه کې د اردن مسلمانانو په خپل حکومت ډېر فشار راوړی ترڅو له اسراییلو سره خپلې اړیکې پرې کړي. لنډه دا چې د ایران او اسراییلو له جګړې وروسته په منځني ختیځ کې یو بدلون دا راتلونکی دی چې د اسراییلو او د دغې سیمې د هېوادونو ترمنځ به د اړیکو د عادي کېدو تړونونه تر اوږده مهاله وځنډېږي.

## ۲- په منځني ختیځ کې د ډیټرینس په موخه د وسلو د سیالۍ زیاتېدل

د ډیټرینس ساده مفهوم دا دی چې یو دولت له اقتصادي، سیاسي او نظامي اړخه ځان داسې پیاوړی کړي چې مقابل دولت ته د هغه د بدې کړنې یا برید په مقابل کې د درنې جزا ګواښ رامنځته کړي (Council on Foreign Relations، 2023). دا جزا کېدای شي سیاسي انزوا وي، اقتصادي بندیزونه وي او یا هم متقابل نظامي برید وي. یعنې یو دولت پر بل دولت له دې امله برید نه کوي چې د مقابل دولت د ځوابي برید ویره ورسره موجوده وي. د دغې وېرې رامنځته کولو ته ډیټرینس وایي. د بېلګې په ډول، کله چې هند اتومي وسله جوړه کړه، نو د دې لپاره چې هند پر پاکستان له برید څخه وډار شي او پر پاکستان په ډاډه زړه برید ونشي کړای، نو پاکستان هم د اتومي وسلې د جوړېدو له لارې د هند په مقابل کې ډیټرینس رامنځته کړ. ایران هم غواړي چې د اتومي وسلې د جوړېدو له لارې په منځني ختیځ کې د اسراییلو په مقابل کې ډیټرینس رامنځته کړي. که ایران اتومي وسله لرلی او د اسراییلو په مقابل کې یې ډیټرینس درلودای، نو اسراییلو به هیڅکله پر ایران برید نه وی کړی. ډیټرینس بیا په دوه ډوله رامنځته کېږي:

۱- د مستقیم مخنیوي تګلاره[1]: کله چې یو دولت له خپل ځان څخه د دفاع په موخه د بل دولت په مقابل کې ډیټرینس رامنځته کوي، دې ته ډاریکټ ډیټرینس ویل کیږي، د بېلګې په ډول، کله چې ایران اتومي وسله جوړوي، نو موخه یې له خپل ځان څخه د دفاع په موخه د اسراییلو او یا هم متحده ایالاتو په مقابل کې د ډیټرینس رامنځته کول دي.

۲- د متحدینو د دفاع د مخنیوي تګلاره[2]: د دې ډول مفهوم دا دی چې کله یو دولت د خپلو نورو متحدینو د دفاع په موخه هم له ډیټرینس څخه کار اخلي. د بېلګې په ډول، متحده ایالات غواړي چې له خپلې اتومي وسلې څخه د خپلو متحدینو د دفاع په مقابل کې هم استفاده وکړي (Michael ، 20218, P. 3). یعنې متحده ایالات اعلان وکړي چې سعودي عربستان په منځني ختیځ کې زما متحد دی او پر سعودي عربستان برید په متحده ایالاتو برید دی، نو په داسې حالت کې د نورو هېوادونو په مقابل کې د سعودي عربستان ډیټرینس هم رامنځته شو چې دې ته ایکسټېنډېډ ډیټرینس ویل کیږي، د دې لپاره د اتومي چترۍ[3] اصطلاح هم کاریږي او داسې ویل کېدای شي چې په منځني ختیځ کې سعودي عربستان، قطر او متحده عربي امارت د متحده ایالاتو د اتومي وسلې تر چترۍ لاندې دي.

بل بحث د وسلو د سیالۍ دی. په نړیوالو اړیکو کې دوه فکري مکتبونه ایډیالیزم[4] او ریالیزم[5] د وسلو په تړاو تر ډېره دا بحث کوي، چې آیا جګړه وسلو ته لاره برابروي او که د وسلو د شتون له امله جګړې رامنځته کیږي؟ ایډیالیستان تر ډېره وسلې د جګړو لامل ګڼي او ریالیستان بیا جګړې د وسلو د رامنځته کېدو لامل ګڼي. له همدې ځایه ده چې ایډیالیستان په بشپړه توګه د بې وسلې کولو[6] او ریالیستان بیا د وسلو د کنټرول[7] د تګلارو پلویان دي. د ایډیالیستانو په اند که وسلې نه وي، نو جګړې به هم نه وي؛ خو په بل اړخ کې ریالیستان

---

[1] Direct Deterrence
[2] Extended Deterrence
[3] Nuclear Umbrella
[4] Idealism
[5] Realism
[6] Disarmament
[7] Arms Control

وايي، کومې جګړې چې موږ ګورو، دا د وسلو د عصري کېدو او شتونتيا له کبله دي؛ يعنې څومره چې جګړې پراخېږي په هماغه کچه د وسلو سيالۍ او جوړېدو ته لاره پرانېستل کېږي (خليل، ۱۳۹۹ هـ.ل.، ۳ مخ). پر همدې بنسټ ويلای شو چې په منځني ختيځ کې د اسراييلو له لوري پر فلسطين، لبنان، سوريې او په ځانګړي ډول پر ايران بريدونه، په دې سيمه کې د وسلو جوړېدو او سيالۍ ته لاره پرانېستې ده او په راتلونکې کې به منځنی ختيځ د ډېرو او درنو وسلو شاهد وي، چې په دې برخه کې ځينې عملي کړنې هم پيل شوې دي. د بېلګې په توګه، پر ايران د اسراييلو له لومړني بريد وروسته د ۲۰۲۵ز. کال په جنورۍ مياشت کې سعودي عربستان له ترکيې سره د ٦ ميلیارده ډالرو په ارزښت د دفاعي همکارۍ يو تړون لاسليک کړ، چې له لارې به يې سعودي عربستان له ترکيې څخه د ترکيې الطای جګړه‌ييز ټانکونه، بې‌پيلوټه الوتکې او د کان[1] په نوم جګړه‌ييزې الوتکې پېري. همدارنګه متحده عربي اماراتو بيا د ۲،۴۵ ميلیارده ډالرو په ارزښت له کويت سره د دفاعي همکاريو تړون لاسليک کړ، چې له مخې به يې کويټ فلج-۳[2] توغندي لرونکې اته بېړۍ متحده عربي امارتو ته ورکوي. د دې ترڅنګ، په ۲۰۲۵ز. کال کې د ايران او اسراييلو د جګړې پرمهال د جون پر ۱۸مه نېټه د ترکيې ولسمشر رجب طيب اردوغان اعلان وکړ، چې ترکيه به د جګړه‌ييزو الوتکو، ټانکونو، بې‌پيلوټه الوتکو او فريګيټونو کورنی توليد زيات کړي ترڅو وسله وال ځواک يې د وسلو له اړخه په کورني توليد تکيه شي او له بهرنيو سرچينو خلاصون ومومي (Huzeir، 2025). تر ټولو مهم دا چې له دغې جګړې وروسته ايران اعلان کړی، چې دوی به هيڅکله هم د يورانيمو غني کېدل پرې‌نږدي او دا له جګړې وروسته د اتومي وسلې او نورو توغنديو د جوړېدو برخې ته اشاره ده. لنډه دا چې د ايران او اسراييلو له جګړې وروسته د دې احتمال ډېر زيات دی چې په دې سيمه کې د ډېټرينس د رامنځته کېدو په موخه د وسلو سيالي پيل او ګړندۍ شي.

---

[1] KAAN
[2] Falaj-3

### ۳- پر سمندریزو ټرانزیټي لارو د تکیې راکمېدل او د ځمکنیو ټرانزیټي لارو اهمیت لوړېدل

دولتونه له سوداګریزو لارو څخه په ګټه اخیستنه له یوې خوا خپلو توکو ته بازار پېداکوي او داخلي اړتیاوې پرې پوره کوي او له بلې خوا د سیاسي او اقتصادي نفوذ لپاره هم ګټه ترې اخلي. دولتونه د خپلې اړتیا وړ توکي له هوایي، سمندري او ځمکنیو لارو څخه ترلاسه کوي. په لوړه کچه سوداګري چې د توکو حجم په کې زیات وي اکثره له سمندري او ځمکنیو لارو څخه ترسره کېږي او هغه توکي چې حجم یې کم وي هغه بیا له هوایي لارو څخه ترسره کېږي. هوایي لارې تر ټولو قیمته، خو د توکو د ژر رسېدو او امنیت له اړخه ښې دي او سمندري لارې بیا د قیمت له اړخه له نورو دوه لارو ارزانه دي. د ملګرو ملتونو د سوداګرۍ او پرمختګ کنفرانس[1] د معلوماتو پر بنسټ، د ۲۰۲۳ز.کال تر پایه نږدې ۸۰ سلنه سوداګریز توکي له سمندري لارو انتقالېدل.

په منځني ختیځ کې د وروستیو شخړو، په ځانګړي ډول د ایران-اسراییلو او پر فلسطین د اسراییلو د برید له امله، له دې سیمې څخه تېرېدونکې سمندري لارې له ننګونو سره مخ شوې دي. په سور سمندرګي کې د یمن انصارالله (حوثیانو) د اسرائیلو پر څو سوداګریزو کښتیو بریدونه کړي (Paul، 2024)، چې له امله یې نړیواله سوداګري اغېزمنه شوې ده. سور سمندرګی د سویز کانال له لارې منځنی ختیځ له مدیترانې سمندر سره نښلوي چې د اروپایانو لپاره تر ټولو لنډه او ارزانه سوداګریزه لار ده، چې اوس د حوثیانو له لوري ناامنه شوې او له امله یې د امریکا او اروپا د لویې وچې هېوادونو پر سوداګرۍ منفي سیورۍ غوړولې او هغوی د بدیلو لارو په لټه کې دي.

همدارنګه که په منځني ختیځ کې د ایران او اسراییلو جګړه بیا پیل شي، نو د دې امکان شته چې د هرمز تنګی هم له ننګونو سره مخ شي، ځکه د تېرې جګړې پرمهال د ایران پارلمان د هرمز تنګي د تړلو اجازه تصویب کړې وه؛ خو مخکې له دې چې په دې اړه د ایران مذهبي مشر نهایي پرېکړه وکړي د ایران او اسراییلو ترمنځ اوربند وشو. لنډه دا چې د ایران او اسراییلو

[1] United Nations Conference on Trade and Development (UNCTAD)

له جګړې وروسته هېوادونه په دې فکر کې دي چې ځمکنيو ټرانزيټي لارو ته مخه کړي، ځکه په منځني ختيځ کې شته شخړې دايمي حل نه لري او هر وخت د دې امکان شته چې په دې سيمه کې جګړې پيل شي او د جګړو د پيل له امله سمندري لارې له ننګونو سره مخ شي. نو د منځني ختيځ د راتلونکي په اړه يوه وړاندوينه دا کېدای شي چې په دې سيمه کې به د سمندري لارو ارزښت راکم او د ځمکنيو لارو ارزښت ورسره زيات شي.

### ۴- ایران به یو ځل بیا په سیمه کې پر خپلو ملاتړو ډلو پانګونه ډېره کړي

په ۱۹۷۹ز.کال کې د ايران د اسلامي انقلاب له بريا وروسته د انقلاب رهبر آيت الله خميني متحده ايالات لوی شيطان او اسراييل کوچنی شيطان ياد کړل او د همدغو "شيطانانو" د له منځه وړلو يا د هغوی په مقابل کې د مقاومت په موخه ايران په منځني ختيځ کې د ځينو ډلو او حکومتونو ملاتړ پيل کړ. له دغو ډلو څخه يې په لبنان کې حزب الله، په عراق کې کتائب حزب الله، عصائب أهل الحق، کتائب سید الشهداء، د بدر ډله او حرکت حزب الله النجباء، په یمن کې انصارالله (حوثيان)، په سوریه کې لِوَاء الزَّيْنَبِيُّون، فاطميون او خپله د بشار الاسد حکومت، په بحرين کې سرايا الاشتر او سرايا الامختار، په فلسطين کې حماس او د فلسطين اسلامي جهاد او په سعودي عربستان کې حزب الله الحجاز شامل دي (Ashley، 2023). له دې ډلې حزب الله، کتائب حزب الله، انصار الله او حماس غورځنګ ډېر قوي او مهم دي. د متحده ايالاتو د بهرنيو چارو وزارت د ۲۰۲۰ز.کال د راپور پر بنسټ ايران هر کال د لبنان حزب الله ته ۷۰۰ ميليونه ډالره مرسته ورکوله. کله چې اسراييلو او متحده ايالاتو پر ايران د مستقيم بريد پلان ونيو، نو ترې وړاندې يې په سوريه کې د بشار الاسد رژيم په نسکورولو کې همکاري وکړه، په لبنان کې يې حزب الله ته درانده تلفات واړول تر دې چې مشر يې حسن نصر الله يې ورته وواژه (Mostafa، 2025). متحده ايالاتو او اروپايانو په ګډه پر انصارالله سخت بريدونه وکړل او په فلسطين کې يې د حماس پرخلاف دا دوه کاله کېږي جګړه روانه کړې ده. يعنې مخکې له دې چې دوی پر ايران مستقيم بريد وکړي لومړی يې ورته ملاتړې ډلې وځپلې او د مقاومت محور يې مات کړ. له دې معلوميږي چې دا څو کلونه د همدغو ډلو له امله متحده ايالاتو او اسراييلو پر ايران مستقيم بريد نشو کولای. له دې کبله به په

راتلونکې کې ایران یو ځل بیا د دغه ډول بریدونو د مخنیوي او د اسراییلو د ماتولو په موخه په منځني ختیځ کې پر خپلو ملاتړ ډلو قوي پانګونه وکړي او د هغوی د بیا راجګېدو او تقویې لپاره به خپل ټول وسایل په کار واچوي.

د پورتنیو څلورو مهمو قضیو ترڅنګ دا هم د یادونې وړ ده چې د ایران او اسراییلو له جګړې وروسته به په سیمه کې د نفوذ د پراخېدو او د ځواک د توازن په موخه د سیمه‌ییزو قدرتونو لکه ترکیې، ایران، سعودي عربستان او اسراییلو ترمنځ سیالۍ پیل شي او دا هم د یادونې وړ ده، چې د دې امکان هم شته چې اسراییل او متحده ایالات یو ځل بیا پر ایران برید وکړي چې له امله به یې په منځني ختیځ کې د قدرت توازن او د دغه سیمې جیوپولټیک په بشپړ ډول بدل شي.

**پایله**

اسراییلو پر ایران له دې امله برید وکړ چې د ایران اتومي تأسیسات او توغندیزې وړتیاوې له منځه یوسي؛ خو دا کار یې په یوازې ځان ونشو کړای او متحده ایالاتو جګړې ته راودانګل. سره له دې چې متحده ایالاتو د اتومي تأسیساتو د له منځه وړلو ادعا وکړه، خو لا هم څرګنده نه ده چې دغه تأسیسات له منځه وړل شوي او که نه؟

اسراییل د دغه برید له لارې غواړي چې په منځني ختیځ کې د خپل قدرت ښودنه وکړي او ځان د منځني ختیځ هژمونیک ځواک معرفي کړي. همدارنګه د دغه برید له لارې نتنیاهو غواړي چې خپل دولت په جګړه کې وساتي او د ده پر وړاندې د فساد قضیې یا له منځه یوسي او یا یې هم لږ تر لږه د خپل حکومت د دورې تر پای ته رسېدو پورې وځنډوي.

له دې جګړې وروسته به په منځني ختیځ کې تر یوه وخته د اسراییلو او عربي هېوادونو ترمنځ د اړیکو د عادي کېدو پروسه وځنډېږي؛ په دې سیمه کې به د ډیټرنس د رامنځته کېدو په موخه د وسلو سیالي پیل شي؛ د سمندریزو ټرانزیټي لارو اهمیت به کم او د ځمکنیو هغو زیات شي؛ او د دې ترڅنګ به ایران یو ځل بیا په سیمه کې د خپلو ملاتړ ډلو پر پانګونه او د هغوی د بیا راپورته کېدو په لارو چارو غور وکړي.

## وړاندیزونه

۱- د منځني ختيځ د کړکېچ ماهيت ته په کتو دې اسلامي امارت د اسراييلو په مقابل کې له ايران څخه پر ډيپلوماتيک ملاتړ بسنه وکړي او په امنيتي برخه کې دې له همکارۍ څخه ډډه وکړي.

۲- اسلامي امارت دې هڅه وکړي چې د ډيپلوماتيک چينل له لارې ايران ته قناعت ورکړي چې په دغه هېواد کې افغان کډوال د ايران امنيت ته ګواښ نه دي او د دوی له اجباري اخراج څخه دې ډډه وکړي.

۳- اسراييلو په منځني ختيځ کې اور بل کړی او په دغه سيمه کې يې اسلامي هېوادونه تر بريد لاندې نيولي دي؛ په غزه کې يې نسل وژنه روانه کړې؛ پر لبنان، ايران او سوريه يې عملاً بريدونه وکړل؛ په داسې حالت کې اسلامي هېوادونو ته په کار ده چې سره متحد شي او خپلمنځي سيالۍ ځنګ ته کړي.

۴- د اسلامي هېوادونو د همکارۍ سازمان او عرب ليګ دې په ګډه پر اسلامي هېوادونو د اسراييلو له بريدونو څخه د دفاع په مقابل کې يو اسلامي امنيتي بلاک جوړ کړي او دا د اسلامي هېوادونو د دفاع لپاره د يوه امنيتي بلاک د جوړېدو ښه فرصت دی.

## مأخذونه


۱- خليل، احمد بلال. "د هند او پاکستان ترمنځ د وسلو کنټرول: فرصتونه ننګوني"، سيمه ييز مطالعات، د افغانستان علومو اکاډمي، ۵۸مه ګڼه، ۱۳۹۹ هـ.ل. کال.

۲- محمد ابراهيم روشن ضمير و علی ريحانی اسدآباد. "جايگاه منافع ملی در سياست خارجی از منظر قرآن"، فصلنامه علمی – پژوهشی سياست متعاليه، سال ۷ ، شماره ۲۷، زمستان ۱۳۹۸.

3- Aljazeera. "Trump defends Netanyahu, attacks Israeli prosecutors over corruption trial", 29 Jun 2025, Access link: https://www.aljazeera.com/news/2025/6/29/trump-defends-netanyahu-attacks-israeli-prosecutors-over-corruption-trial

4- Arab Center for Research and Policy Studies. "US-Iran Nuclear Talks: Background, Obstacles, and Prospects", 8 May, 2025, Access link: https://www.dohainstitute.org/en/PoliticalStudies/Pages/us-iran-nuclear-talks-background-obstacles-prospects.aspx#:~:text=The%20United%20States%20and%20Iran%20have%20now

%20sat,program%2C%20while%20Tehran%20hopes%20to%20lift%20economic%20sanctions.

5- Ashley Lane. “Iran’s Islamist Proxies in the Middle East”, Wilson Center, September 12, 2023, Access link: https://www.wilsoncenter.org/article/irans-islamist-proxies

6- Berk Kutay Gökmen. “Iranian Hajj pilgrims to return via Afghanistan amid Israeli attacks”, Anadolu Ajansi, 16.06.2025, Access link: https://www.aa.com.tr/en/asia-pacific/iranian-hajj-pilgrims-to-return-via-afghanistan-amid-israeli-attacks/3600916#

7- Bishop Raymond Taylor. “The Greater Israel Project: A Critical Analysis of Its Implications and Impact”, Dec 15, 2024, Access link: https://bishopraytaylorphd.substack.com/p/the-greater-israel-project-a-critical

8- Council on Foreign Relations. “What Is Deterrence?”, May 24, 2023, Access link: https://education.cfr.org/learn/reading/what-deterrence

9- Dr. Khushnam PN. “A Pragmatic Reset of Israel’s “Periphery Doctrine” Can Ensure its Security and Lasting Peace in West Asia”, Diplomatist, 6 May, 2020, Access link: https://diplomatist.com/2020/05/06/a-pragmatic-reset-of-israels-periphery-doctrine-can-ensure-its-security-and-lasting-peace-in-west-asia/

10- Dr. David Marzak. “Theopolitics: Theology and Politics Needed to Understand World News TODAY”, New Era World News, Dec 10, 2016, Access link: https://newera.news/what-is-theopolitics-and-why-is-it-needed/

11- Eldad Ben Aharon. “Political audience and non-linear securitisation: Revisiting Israel–Iran relations and the making of the 1979 Islamic Revolution”, European Journal of International Security, 2024, Access link: https://www.cambridge.org/core/services/aop-cambridge-core/content/view/9CF17D9A42716C5D3E3C6C210A9CF298/S2057563723000263a.pdf/political-audience-and-non-linear-securitisation-revisiting-israel-iran-relations-and-the-making-of-the-1979-islamic-revolution.pdf

12- Ellenbogen, Hesham Youssef, Robert Barron and Adam Gallagher, “Is a Saudi-Israel Normalization Agreement on the Horizon?”, United States Institute of Peace, 2023, Access link: https://www.usip.org/publications/2023/09/saudi-israel-normalization-agreement-horizon

13- Express Web Desk. “Why over 500,000 Afghans were forced out of Iran in just 16 days and what’s next?”, The Indian Express, July 11, 2025, Access link: https://indianexpress.com/article/world/why-over-500000-afghans-were-forced-out-of-iran-in-just-16-days-and-whats-next-10120367/

14- Farah Najjar. “Benjamin Netanyahu’s corruption trial, what you need to know”, Aljazeera, 9 Dec 2024, Access link: https://www.aljazeera.com/news/2024/12/9/benjamin-netanyahus-corruption-trial-what-you-need-to-know

15- FP Explainers. “Iran vs Israel: How the two countries went from friends to foes”, FirstPost, April 15, 2024, Access link: https://www.firstpost.com/explainers/iran-israel-ties-friends-foes-history-13759492.html

16- Howard Goller and Jonathan Landay. “Israel killed 30 Iranian security chiefs and 11 nuclear scientists, Israeli official says”, Reuters, June 28, 2025, Access link: https://www.reuters.com/business/aerospace-defense/israel-killed-30-iranian-security-chiefs-11-nuclear-scientists-israeli-official-2025-06-27/

17- Huzeir Ezekiel Dzulhisham. “The Iran-Israel Conflict: Geopolitical Implications for The Middle East”, RSIS, 02 July 2025, Access link: https://rsis.edu.sg/rsis-publication/rsis/the-iran-israel-conflict-geopolitical-implications-for-the-middle-east/

18- JENNIFER MITZEN, “Ontological Security in World Politics: State Identity and the Security Dilemma”, European Journal of International Relations, Volume 12, Issue 3, 2006, Access link: https://journals.sagepub.com/doi/epdf/10.1177/1354066106067346

19- Kali Robinson. “What Is the Iran Nuclear Deal?”, Council on Foreign Relations, October 27, 2023, Access link: https://www.cfr.org/backgrounder/what-iran-nuclear-deal

20- Laeny SULISTYAWATI and Peni HANGGARINI. “Iran's Hypersonic Missile Attack on Israel and Its Impact on Geopolitics and Oil Prices”, Journal of Political and Legal Sovereignty, 2024-01-01, Access link: https://acityajournal.com/index.php/jpls/article/view/211/511

21- Maziar Motamedi. “Iran and Israel: From allies to archenemies, how did they get here?”, Aljazeera, 6 Nov 2023, Access link: https://www.aljazeera.com/news/2023/11/6/iran-and-israel-from-allies-to-archenemies-how-did-they-get-here

22- MEARSHEIMER, JOHN J.,” International Relations Theories: Discipline and Diversity”, Commack Schools, 2007, Access link: https://www.commackschools.org/Downloads/8_mearsheimer-_structural_realism.pdf

23- Michael J. Mazarr.” Understanding Deterrence”, Rand Corporation, 2018, Access link: https://www.rand.org/content/dam/rand/pubs/perspectives/PE200/PE295/RAND_PE295.pdf

24- Michael Robbins. “MENA Publics and the Future of Normalization with Israel”, Arab Barometer, January 9, 2025, Access link: https://www.arabbarometer.org/2025/01/14619/

25- Ministry of Foreign Affairs of Afghanistan. “IEA-MOFA Condemns U.S. Strikes on Iran’s Nuclear Sites”, 06/22/2025, Access link: https://mfa.gov.af/en/44441

26- Ministry of Foreign Affairs of Afghanistan. "Speech by IEA-Foreign Minister of the at the 51st OIC Ministerial Meeting", 06/22/2025, Access link: https://mfa.gov.af/en/44454

27- Mostafa Salem and Nic Robertson. "Nothing has changed': Iran tries to rearm proxy groups as US talks stall", CNN, July 19, 2025, Access link: https://edition.cnn.com/2025/07/19/middleeast/iran-rearm-proxies-us-talks-stall-intl#:~:text=Iran%E2%80%99s%20armed%20proxies%20are%20ramping%20up%20pressure%20on,two%20years%20of%20a%20destructive%20Israeli%20military%20campaign.

28- Natan Sachs. "Iran's revolution, 40 years on: Israel's reverse periphery doctrine", Brookings, January 24, 2019, Access link: https://www.brookings.edu/articles/irans-revolution-40-years-on-israels-reverse-periphery-doctrine/

29- Palestine Chronicle Staff. "The 'Periphery Doctrine': Is Israel Returning to the 'Minorities Alliance'? – Analysis", The Palestine Chronicle, 2025, Access link: https://www.palestinechronicle.com/the-periphery-doctrine-is-israel-returning-to-the-minorities-alliance-analysis/

30- Paul Wiseman and Mae Anderson, Attacks on Ships in the Red Sea Are Disrupting Global Trade: Here's how it could affect what you buy, The Associated Press News, January 28, 2024, Access link: https://apnews.com/article/red-sea-houthi-attacks-shipping-inflation-124d5445bec8ce6864112e3095646308

31- Pratiksha Tripathi. "A brief history of Iran and Israel: How it started and what caused the fight", The Tatva, 17 Jun 2025, Access link: https://thetatva.in/explainer/a-brief-history-of-iran-and-israel-how-it-started-and-what-caused-the-fight-9370107

32- R.G. Uxton. "The Iran Threat Theory", The Postil Magazine, April 1, 2025, Access link: https://www.thepostil.com/iran-threat-theory/

33- Rishika Singh. "Explained: A short history of Iran-Israel ties and why they soured after 1979", The Indian Express, April 14, 2024, Access link: https://indianexpress.com/article/explained/everyday-explainers/history-israel-iran-relations-middle-east-9270079/

34- Ronen BergmanMark Mazzetti and Farnaz Fassihi. "Bomb Smuggled Into Tehran Guesthouse Months Ago Killed Hamas Leader", The New York Times, 01, Aug, 2024, Access link: https://www.nytimes.com/2024/08/01/world/middleeast/how-hamas-leader-haniyeh-killed-iran-bomb.html

35- SAM MEDNICK, AAMER MADHANI and DAVID RISING." S Strikes 3 Iranian Sites, Joining Israeli Air Campaign Against Nuclear Program", Militry.com, June 21, 2025, Access link: https://www.military.com/daily-news/2025/06/21/us-strikes-3-iranian-sites-joining-israeli-air-campaign-against-nuclear-program.html

36- SETH J. FRANTZMAN. “Inside Israel’s ‘reverse periphery’ strategy – analysis”, The Jerusalem Post, DECEMBER 7, 2021, Access link: https://www.jpost.com/middle-east/inside-israels-reverse-periphery-strategy-analysis-688066

37- Shiping Tang, “The Security Dilemma: A Conceptual Analysis”, Security Studies, 2009, Access link: https://www.tandfonline.com/doi/epdf/10.1080/09636410903133050?needAccess=true

38- ToI Staff. “Mossad killed Iran’s top nuke scientist with remote-operated machine gun — NYT”, The Times of Israel, 18 September 2021, Access link: https://www.timesofisrael.com/mossad-killed-irans-top-nuke-scientist-with-remote-operated-machine-gun-nyt/

39- United Nations Conference on Trade and Development (UNCTAD), Review of Maritime Transport, Access link: https://unctad.org/publication/review-maritime-transport-2021#:~:text=Maritime%20transport%20is%20the%20backbone,report%2C%20published%20annually%20since%201968